# البلد

**مکی سورة دی ۲۰ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

لَآ أُقۡسِمُ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ﴿١﴾

**( د مکې کفار فکر کوی چې ژوند یوازې د مزو چرچو او خوراک څښاک نوم دی او له مرګه وروسته هیڅ حساب کتاب نشته. الله تعالی یې په ځواب کې فرمایی):**
**نه-( داسې نه ده لکه تاسو چې فکر کوی) قسم دی په دې ښار( مکه معظمه چې د کعبې شریفې په برکت له یوې شاړې بیدیا نه د ټول عالم اسلام په یوازینی مرکز او د کامل امن په ښار بدل شوی، او د بشریت د ستر لارښود محمد صلی الله علیه مسلم د تولد او ژوند د ټاټوبی ویاړ هم ور په برخه دی).**

وَأَنتَ حِلُّۢ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ﴿٢﴾

**( خو ای پیغمبره! د امن په همدغه اعلان شوی ښار کې به د مکې د فتحې په ورځ د دین د دښمنانو په خلاف د جګړې موقتی) اجازه تاته درکړی شی.**
**(او ای پیغمبره! په دې امنیتی حرم کی هم ته مصئون نه یې او ستا د زورونې او وژلو پلانونه او دسیسې پکې جوړیږی).**

وَوَالِدٖ وَمَا وَلَدَ ﴿٣﴾

**او قسم په پلار( آدم) او د هغه په اولاد( چې په هر عصر کې په نړۍ کی ژوند کوی).**

لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِي كَبَدٍ ﴿٤﴾

**( په دغو ټولو واقعیتونو قسم) چې انسان مو په ستونزو او کړاوونو کې پیدا کړی( او د بیلابیلو ازمیښتونو له بټۍ باید بریالی ووځی).**

أَيَحۡسَبُ أَن لَّن يَقۡدِرَ عَلَيۡهِ أَحَدٞ ﴿٥﴾

**آیا( پخپل قوت مغرور کافر انسان) ګومان کوی چې هیڅوک به وربانذې برلاسی نشی؟**

يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ﴿٦﴾

وایی:( د الله تعالی په نافرمانۍ، د پیغمبر په عداوت او د اسلامی دعوت په دښمنۍ او د خپل عزت او وقار د نمایش لپاره مې په هر ډول محافلو کې) ډیر زیات مال دولت لوګی کړی دی.

أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٧﴾

آیا فکر کوی چې هیچا نه دی لیدلی( او اعمال یې نه دی ثبت شوی او څوک به ترې انتقام وانخلی؟)

أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ ﴿٨﴾

آیا هغه ته مو( د علم او عقل ذرایع) دوه سترګې نه دی ورکړی؟

وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ﴿٩﴾

او( د افهام او تفهیم او استدلال لپاره) مو یوه ژبه او دوه شونډې (ورکړی).

وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾

او دوه لارې مو ورته ورښودلی( چې باید د خیر په لاره لاړ شی او له شر نه ځان وساتی).

فَلَا ٱقْتَحَمَ ٱلْعَقَبَةَ ﴿١١﴾

خو دی لا ( د ازمیښت) له هغه ستونزمن پیچومی، نه دی تیر شوی.

وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾

او ته څه پوهیږې چې هغه سخت پیچومی څه دی؟

فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾

د مریی له غاړې د غلامۍ د ځنځیر لیرې کول( غلام آزادول).

أَوْ إِطْعَٰمٌ فِى يَوْمٍ ذِى مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾

د وچکالۍ او قحطۍ په ورځ خواړه خیرات کول.

يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾

خپلوان یتیم ته.

أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾

یا په سپیرو خاورو کې( کپ دوډۍ ته مجبور ناست) بې وزلی مسکین ته.

ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾

او( د دغو مسئولیتونو او واجباتو په اداء کولو سربیره، باید د سپیڅلی او مخلصانه) ایمان په وسله سمبال او خلکو ته د صبر او مهربانۍ توصیه کوونکی وی.

أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾

( د همدغو صفاتو او مشخصاتو لرونکی) کسان ربښتیا هم نیکمرغه او بریمن دی.

وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا هُمْ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ﴿١٩﴾

خو د تور بخت خاوندان هغه دی چې زمونږ د آیتونو په وړاندې د کفر او عداوت په سنګر کې ولاړ دی.

عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌۢ ﴿٢٠﴾

بې له شکه چې د دوی له پاسه به یو سرپټی اور مسلط وی( چې د تیښتې رو ګودر به ترې و نه مومی).

« تمت سورة البلد بفضل الله و رحمته»

======================